# د ډاکټر محمداعظم اعظم په شاعري کښې صنعت ګري:

## T echnical Aspects in Dr. Muhammad Azam Azam.

Iqbal Khan.*

**ABSTRACT:**

Dr. Muhammad Azam Azam is one of the most prominent and well known literary figure, who is considered as one of the greatest poet and prose writer. His prose and poetry are comparatively of standards. Furthermore as a dramatist his plays portrays society and could be seen that the story is happening right now. His plays are effective but here our main concern is with his poetry. As poets are most commonly praising the beauty of their beloveds, but on the contrast. Dr. Muhammad Azam Azam is different among such poets. If they are praising their Love, Dr. Muhammad azam cries the pain of Pashtoon society or Pashtoon land.If other poets are busy with their Layla's beauty and overwhelming dance, he writes about the starving one. It is easy to understand others poet's poetry who writes of love but Dr Azam is complex.

In addition with if we study his attitude towards Ghazal writing, his Ghazal seems different from others though those poets are considered to be prominent Ghazal writers of same region ( Charsadda).

For example; Ghazal of Maftoon, Ghazal of Gran and Ghazal of Saleem Raaz etc are different and comparatively Azam's diction and style is diffrerent.

If one critically analyze the purpose of Ghazal it could be seen that it is type of poetry which preaches peace and mourns mourning spots of community or society.

The Ghazal of Dr. Azam is the same mirror that reflects the lives of individuals of his society, and especially he highlights those things which other poets are not comfortable to reveal.

Which means that Dr. Azam has truly depicted a complete picture of his society and had uncovered the ugliest one's to reveal the reality of society.

In conclusion, if his poetry is imitating a true picture of society same his prose has the ability to portray it well.

**Key Words:** Pashto poetry, Dr. Muhammad Azam Azam, Pashtoon depiction, Ghazal, reality, life, beauty.

ادب د ژبې يو خوږ او شيرين توکے دے چې د يو انسان پرې طبع ازمائي کېږي او ددې په لوست ئې ځينې جذبې راپارېږي۔ که پام وکړو نو د يوې ټولنې به داسې يوه ژبه هم نه وي چې د ادب زېږونه پکښې

---

* Ph.D Scholar Pakhtunkhwa Study center Bacha khan University Charsadda

نه وي او د ادب دغه خوږه چینه پکښې خپله وله نه بهیوي۔ که په یوه تړولنه باندې نظر وکړو نو ادب دغه خوږ وږم به ترې لازم راځي او د خلکو دهنونه به معطر کوي ځکه چې ادب اوریدو باندې د بنده ذهن ته ډېر ارام محسوسېږي۔ هم دغه شان پښتو ژبه هم داسې د ادب ښه ښه لیکوالان لري چې هڅه وکړي چې د نورو ژبو په شان خپله ژبه پښتو هم د نورو سترو ژبو په شان د هغوي سره اوږه په اوږه اودروي او د سیالۍ جوګه ئې جوړه کړي۔

چارسده چې په سیاسي،علمي او ادبي لحاظ ډېره شتمنه ده ځکه چې دلته د پښتو ادب ډېرې لوئې لوئې نامې لکه عبدالاکبر خان اکبر،غني خان،اشرف مفتون،سلیم راز او داسې یو شمېر لیکوالان چې په دې موجوده دور کښې هم شته چې د چارسدې د ادب لمن پرې ښېرازه ده۔ د دې هر څه نه وړاندې چې چارسده چرته ده نو آصف علي په خپل کتاب د چارسدې تاریخ د دوړو لاندې کښې لیکي:

> "چارسده چې د پېښور نه په نهه ویشت کلو میټره کښې د نمر پرېواتۀ ډډې ته پرته ده۔ د چارسدې حدود اربعه (۹۹۲) کلو میټره مربع فټ ده۔ د چارسدې نمر خاتۀ ډډې مردان جنوب ته پېښور او نوښار او شمال ډډې ته ملاکنډ او مومند ایجنسۍ پرتې دي۔"[1]

دا خو شوه د چارسدې ضلعې پېژندګلو اوس به راځو او د پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم پېژندګلو به کوو چې محترم چرته او کله پېدا شوے ؤ او پلارنے کلے ئې کوم یو ؤ چې دغه خبره سپینه کړو۔

د ډاکټر محمد اعظم اعظم د پېژندګلو په لړ کښې ښاغلے همېش خلیل صېب په خپل کتاب پښتانه لیکوال (دویم ټوک) کښې داسې کوي۔

> " اعظم د چارسدې په رځړ نومې کلي کښې د حیدر خان مهمندزي کره په کال ۲۱ دسمبر ۱۹۴۱ ء کښې پېدا شوے دے ابتدائي تعلیم ئې د خپل کلي په سرکاري مدرسه کښې حاصل کړے دے او لسم جماعت ئې د چارسدې هائي سکول نه په کال ۱۹۵۲ ء وکړو۔ د وړاندې تعلیم د پاره اسلامیه کالج پېښور ته لاړو او د بي اے سند ئې هم تر لاسه کړو ۔ په کال ۱۹۲۳ء کښې په اسلامیه کالج کښې د پښتو لیکچرر شو ۔ په کال ۱۹۸۲ء د پېښور پوهنتون نه "پښتو ادب کښې کردار نګاري" په موضوع مقاله لیکلو نه پس د پېښور پوهنتون پښتو شعبې ته وغوښتلے شو چې هلته بیا په کال ۱۹۸۷ء د ذکر شوې شعبې چیرمین شو ۔ څو

کاله پس د مشرقي ژبو د فيکلټۍ د ډين په عهده وټاکل شو. چې غالباً د کال ۱۹۹۱ء نه تر کال ۲۰۰۰ء په دغه منصب له خدماتو وروستو په پنشن لاړ." 2

دا خو شوه د ښاغلي ډاکټر محمد اعظم اعظم پېژندګلو اوس به ګورو چې ډاکټر صېب په خپله شاعرۍ کښې کوم کوم صنعتونه په کوم ځايونو کښې استعمال کړي دي.

## ❖ صنعت تعلي

تعلي چې ګڼ شمېر شاعرانو په خپله شاعرۍ کښې استعمال کړې ده. د کلاسک نه رانېولې تر جديد دورې پورې او د جديد نه راواخله تر دا وخته د شاعران په شاعرۍ کښې په نظر راځي. ښاغلي ډاکټر محمد اعظم اعظم هم په ځينو ځايونو کښې استعمال کړې ده خو د دې وړاندې په دا ښۀ وي چې د تعلي پېژندنه اوشي. د تعلي د پېژندګلو په حقله ښاغلے سحر ګل سحر ليکي:

"اکثر شاعران په خپلو شعرونو کښې د خپل فن،فکر او هنر مندۍ دعوي کوي. داسې قسمه دعوې ته چې د غزل په مقطع کښې کولے شي دې ته شاعرانه تعلي وائي." 3

د تعلي د نمونې د پاره د رحمان بابا دا شعر چې:

"د رحمان کلام په دا سبب شېـــرين دے
چې بې هـر کـلام دے د اخـلاص." 4

د ډاکټر محمد اعظم صېب په شاعرۍ کښې د تعلي صنعت شتون لري. لکه دلته هغه شعرونه راوړل کېږي چې په کومو کښې ډاکټر صېب تعلي استعمال کړې ده. لکه د مثال دپاره دلته د ډاکټر محمد اعظم هغه شعرونه راوړو چې په هغه د تعلي صنعت استعمال کړے دے د نمونې د پاره هغه شعرونه دلته وړاندې کوو ـــــ

"وړه خلــه لـــــوئي خبــرې،نشته نشته په اعظم کښې
چې د دې ملنګ شړۍ کښې،د شــــال چرته پيوند نشته." 5

"چې د غـــــــــــــر غوندې ژوندون ئې په سر يوړو
خلــــک وائـــي په رښتــــيا اعظــم اعـظم دے." 6

"ښُــــــکلاګانــــــې د اعظــــــــم د تخيل دي
چــــې ئې نــــوې رنګــــينۍ ورکړې غزل ته." 7

"چـــــې ئې ســـر ابښــــــے په دار تـــــل د ديدار وي
د اعـــــظم غوندې ژوندے وي خو بيا بيا مري." 8

"چـــــــــــــې اعظم غوندې ساحل د تمنا نه لري
څه طـــــــوفان څه به دريا څه به دريـــــا ته ورې۔ 9"

د دې شعرونو په رڼا کښې مونږ دا خبره کولے شو چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې د نورو په صنعتونو په شان د تعلي صنعت هم شون لري۔

❖ صنعت تضاد

تضاد د معنوي صنعتونو نه يو دے چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې شتون لري خو د دې وړاندې چې اول دغه خبره سپينه شي چې دا ووائي څۀ ته نو بهتره به وي۔د صنعتِ تضاد په حقله ښاغلے ساجد شائق ليکي:

"تضاد د معنوي صنعتونو نه يو دے چې په شعر کښې دوه داسې ټکي راوستلے شي چې معنا ئې د يو بل په ضد اپوته وي۔ 10 "

لکه د امير حمزه خان شينواري دغه شعر د نمونې د پاره :

"د هــر مــخ به مــاته مــخ شي دروغ نۀ دي
هغه ښکلـي که کړو مـاته پـه ريښتـيا مــخ۔ 11"

هم دغه د تضاد په حواله د اُستاذ شاعر ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې هم د تضاد صنعت شتون لري دلته ئې د مثال د پاره هغه شعرونه راوړو چې کوم د ډاکټر صېب په شاعرۍ کښې راځي۔

"د باطل ناترسه ګوتې،د حق غاړه کښې رسۍ وې
بې وسۍ د بې کسانو،په مرو کښې تېزندۍ وې 12 "

"د بهـــــــار هلــــــته کښــــــــې څه وي
چــــرته راج چـــــې د خـــــــــزان وي 13 "

"د مرګ په خاموشۍ د ژوند په لويه اديره کښې
ژوندو ژوندو شعرونو له ژوندے اوسې اعظمه 14 "

"د عقل په نــــيلو سواره اسمان ته ختے نه شي
له فرشه چې تر عرشه ځي ده لار په مدينه کښې15 "

"چې قــيصه مې د ژوندون څومره ترخه شوه
ستا د غـــم هره لمـــحه هـــومره خوږه شوه 16"

"د ژړا پــــه اوبۀ خـــــورو پـــوره نه شوه
پـــه خنـــــدا وراني ودانـــې اوچې شنې کړه 17 "

د دې پورته شعرونو په رڼا کښې مونږ دا ووئیلے شو چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرئ کښې د تضاد صنعت هم شتون لري۔

❖ صنعت میرعات النظیر:

د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې دا صنعت هم په نظر راځي خو اول پکار ده چې د دې خبرې سپیناوے وشي چې صنعتِ مراعات النظیر څۀ ته وائي د دې د رڼاوي په حقله پوهنمل محمد ابراهیم همکار په خپل کتاب د بدیع فن او پښتو شاعري کښې داسې لیکي:

"مراعات په لغت کښې د ساتلو په معنا دي او نظیر په لغت کښې د مثل او مانند په معنا دي۔ په اصطلاح کښې که شاعر په خپل کلام کښې څو متناسبې معناوې راوړي مراعات النظیر ورته وائي۔" 18

د اعظم صېب په شاعرۍ کښې په دې صنعت باندې هم شعرونه شتون لري۔ د نمونې دپاره د عبدالحمید بابا دا شعر چې:

"رنګ او بوئي د وفا نشته پکښې ځکه
د دې باغ د ګلـو واخست خـپل نـظر ما۔ 19"

داسې قسمه شعرونه چې د دې صنعت سره اړونده دي د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې په نظر راځي چې دغه صنعت پکښې جوت ښکارېږي د نمونې په توګه د اعظم صېب هغه شعرونه دلته راوړل به مناسب وي۔

"ګل دې د شـــونډو سره مه جوحتوه
هســـې نه اُور په ګلـــستان اولګي 20 "

"نغـــمه د مــــینې ئې بـبداره کړله
مطرب اودۀ شـــو د زړۀ ساز اودۀ شو 21 "

"پـــــرون ســـــــبا د اُمــــــیدونو نه وو
نـــن اُمــــیدونو له ســــبا لـــــتوُم 22 "

"زړګـــیه هســـې نه غـــمژن شـــې پـــرې څه
نـــوے د نـــوي غـــم غمـــخوار وګــــنه 23 "

"ازغـــــي چــې د ګلــونو په نامــه چرته خرڅېږي
په ژبــه د احـــساس نــو تنقــيدونه خــو به وي 24 "
"چـــــې راځـــې نو پســـرلي د ځــان ســره کـړه
دا کلـــــی د ګل کـــــېدو پــــه انتـــظار دي 25 "
"مــــا په خــزان کښــې عــلامې د بهــار وليدلې
د زړۀ هــــر زخـــــم مې د ے ګل ستا د رُخسار ختلے 26 "
"د عشق بازار کښې ماليارانو ،د لمبو مخونه ښُکل کړل
چا چـــې دا سيمـــه ګلزار کړه ،د هغو نصيبه نار د ے 27 "
"د بــې شعـــورو په ګلـــشن کښې پانې پانې ښه يم
د ګل د غــــــېږې نه د بـــــوي غوندې پريشانه لاړم 28"

د دې بره وړاندې شوو شعرونو په رڼا کښې دا خبره ډاګيزه شو چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې د صنعت ميراعات النظير صنعت هم په کثرت سره په نظر راځي ـ

❖ صنعتِ تکرار :

د علم بديع د لفَظي صنعتونو نه دا هم يو جُز د ے او د علم بديع د لفظي صنعتونو د خاندانه سره تعلق ساتي صنعت تکرار څۀ ته وائي شيرشاه ترخوي په خپل کتاب بحرالادب کښې د صنعت تکرار پېژندګلو داسې کوي ليکي:

"چې يو لفظ په يو شعر کښې بار بار استعمال شي خواه که هغه د شعر په يوه مصرعه کښې د ے يا په دواړو مصرعو کښې ورته تکراروئيلے شي-" 29

دا خو شوه د صنعت تکرار پېژندنه اوس به ګورو چې ډاکټر محمد اعظم اعظم دغه صنعت څنګه پکار راوستے د ے يا څنګه د دۀ په شاعرۍ کښې مونږ ته په نظر راځي خو د هغې نه وړاندې د نمونې دپاره د خاطر اپريدي دغه شعر چې تکرار پکښې ليد ے شي په داسې رنګ د ے.

" تار په تار دې چې اوربل کړو
ګريوانۀ مې ترې زده چل کړو ـ" 30

صنعت تکرار يو شمېر شاعرانو په خپلو شعرونو کښې پکار راوستے يا بيان کړ ے دغه شان ډاکټر محمد اعظم اعظم هم دغه صنعت کاروي لکه چې وائي:

"یو بـــدل شـــان انقـــلاب وو
چـــې جـــهان ئې تـــول بدل کړو 31 "
"هغه سترګې اوس نشته او که نشته
ســتا د سترګو موسیدلي جنتونه 32 "

"د چا فکر مې په زړهٔ شــو ،د چا ذکر مــې به خُوله شو
چې مې خیال غزل غزل دے ،چې خبره مې نغمه شوه 33"
"وې دغــه دوه ســترګې خو بیل بیل ئې د کتو انداز
چاته شــي ګلونه،شــي ګلونه د چا ستـــرګو کښــې 34"
"چـــــې ســـــوچونه مـــــــې ړاندهٔ شي
ســــــوداګانـــــې مـــــــې تېـــرې شي 35 "
"دا کــوم ســـخي پرې راغـے چې وېشي تـــخیل مې
وړمــــې وړمــــې خیـــالونه،نغمې نغمې خبرې 36 "
"چا پسې وروستو وروستو ګورې د یـــادونو په شـــا
اعظـــــمه! تلـــونکي قـــافله ده ته به کلـــه راځې 37 "
"هـــــر انـــداز ئې دلفـــریب دے خـــو زړګیه
دا معـــــصوم معـــــصوم کتـــــل ئې د کتو دي 38 "
"د جـــهان په خـــوشحالو به ئــې ورنکـــــړم
د چـــا غـــم دے د چـــــا غـم چې زما غم دے 39"
"اے وخته ستا د تـګ لارې زمـونږه دي ستا نه دي
منـــزل که زمـــونږ نه شو مـــزلونه خــو به وي 40 "
"د هـــجر شپه د زلفـــو په ټال لاړه شي جوته شي
راپېښــــه کــړي ســـودا راته سودا کله نه کله 41 "
"کتل کړي نوي نوي خو په هغه زړو سترګو
کــوه دا نا اشـــنا کار هـم اشنا کله نه کله 42 "
"زمـــا په زړهٔ کښــــې ډېره ډېره اوسه
زمـــا په شـــونډو کـــمه کـــمه راځـــه 43 "

"خپل تصویر شو رانبکاره نظر نظر کښې
تا چې مخ کړو راځرګند لیمه لیمه کښې 44 "

د دې بره شعرونو په تناظر کښې مونږه دا خبره کولے شو چې د ډاکټر صبب په شاعرۍ کښې د نورو صنعتونو تر څنګ د تکرار صنعت هم په کثرت سره لیدلے شي۔

❖ **تجنیس مضارع :**

تجنیس مضارع د بدیع ښکلا د لفظي صنعتونو نه یو دے۔ چې مونږ ته په کلاسک او جدید دورونو کښې په پښتو شاعرۍ کښې په نظر راځي پکار ده چې تجنیس مضارع وپېژندل شي چې دا څۀ وائي د دې د پېژنګلو په لړ کښې ښاغلے مشتاق مجروح یوسفزے د یاد صنعت داسې پېژندنه کوي۔

"په کلام کښې داسې دوه لفظونه راؤړل چې د حرفونو تعداد ئې یو هومره وي خو یو حرف پکښې مختلف وي لکه "وفا او جفا " کښې چې یو حرف مختلف دے۔ که داسې لفظونه په تلفظ کښې یو بل ته نزدې وي نو هغې ته تجنیس مضارع ووئیلے شي۔" 45

لکه د مثال په توګه د شاهد علي شاهد په دې شعر کښې صنعت تجنیس مضارع مونږ ته مخې ته راځي لکه چې وائي:

"اوس څۀ حاجت دے تا په تېر وخت مینه وپېژنده
ما د لمبو په مېنځ کښې تېر کړل د ځوانۍ وختونه۔ 46 "

هم دغه شان د ډاکټر محمد اعظم اعظم کښې دا یاد صنعت شتون لري دلته ئې هغه شعرونه وړاندې کوو په کومو کښې دغه صنعت شامل دے۔

"تا څــه په اسانه یو مــسکي نظـر کښــې یوړله
ما څه په خوارو وه ټینګه کړې ژړا سترګو کښې"47

"چـــا په دروغـــه هـــم تـــپوس کړے دے
چـــې دا خـــاموشه احتـــجاج د څه دے 48 "

"نه زمـــانې نه مـــــو دنـــیا ته کتـــل
بـــس چـــې مـــا تـاته او تا مـا ته کتل 49 "

"جــوړ د ائـــین نظـــر په تا ولګـــېد
چـــې د حـــېرته ستـــرګې وا پاتې شوې 50 "

"زړۀ کلـــه صـــبرېږي خو په زړۀ ئې تــېرومه
بـــې تا نه نه تـــېرېږي چــې دا زۀ ئې تېرومه 51 "

"د هر ښائست سترګو کښې تا راته خپل ځان را وښود
په هر نظـــر کښې دې د مینـــې یو جـــهان را وښـود 52 "

د دې ورکړې شوو شعرونه نه دا خبره مونږه ته د رڼا په شان ښکاره شوه چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې د تجنیس صنعت هم شامل دے۔

❖ صنعت مبالغه:

صنعت مبالغه هم د معنوي صنعتونو نه یو دے۔ دلته ئې اول پېژندنه او ورپسې د نمونې د پاره د ډاکټر محمد اعظم اعظم هغه شعرونه راوړو خو پکار ده چې د دې اول پېژندګلو اوشي۔ د صنعت مبالغه په اړه باندې جاوید جان لیکي:

"په ادبي اصطلاح کښې په شعر کښې داسې صفت یا حالت او کېفیت بیانول چې
د اصلیت او حقیقت نه ډېر لرې وي مبالغه بللے کېږي۔" 53

صنت مبالغه چې د علم بدیع د معنوي ځانګو نه یوه ځانګه ده د اعظم صبب په شاعرۍ کښې دغه صنعت هم شتون لري۔ د دې ځانګې سره تړلي یو شمېر شعرونه د ډاکټر صاحب په شاعرۍ کښې په نظر راځي۔ خو د بېلګې په طور چې د صنعت مبالغه پېژندنه ترې وشي د صاحب شاه صابر دا شعر چې:

"څوک چې پاکي د فرښتو بیان کړي
مونږ ته جانان خانه خراب یادېږي۔ 54 "

د نورو شاعرانو سره ډاکټر محمد اعظم اعظم هم د علم بدیع معنوي دغه جُز په خپلو شعرونو کښې ځاے کړے دے۔ د مثال دپاره د اعظم صاحب د صنعت مبالغې شعرونه په دا رنګ دي۔

"کله جوړ د یار نظر شي، کله تېر د عرش په سر شي
اے زمـــا لیوني خــیاله، تانه هیــخ هم بلند نشته 55 "

"ستـــا د مــخ آئیــن کښـــې هـــسې رنـــګ فنا شـوم
اوس په هـــر لـــورې بقـــا محـــــــــــسوسومه 56 "

"زه دې د سترګو په دنیا کښې داسې ورک شومه چې
ته دې د شونډو په مُســـکا کښـــې مـانه پټه شولې 57 "

"ســــــتا تصـــــویر زمـــــا نظــــــر شــــــي
ستـــــا رڼـــــې ستــــــرګې ډېــــوې شـــي 58 "

"مـــــخ ئې د جـــانان چـــې پــکښې ومـوندو
خپـــــل زړۀ ته اعظـــــم ووې کعـــبه قـــبله 59 "
"بـــې له اوښکـــــو مو روزي په جهـــان نشته
د زړۀ زمــــکه مــــو اعظــــــمه باراني ده 60 "
"ســـتا د وجـــود په کـــور کښـــې اوســـې هغه
خـــــود به نــــارې کـــــړي چې اعظمه راځه 61 "

د دې بره شعرونو په رڼا کښې دا خبره رڼه شوه چې د نورو صنعتونو په شان د اعظم صبب په شاعرۍ کښې صنعتِ مبالغه هم په ډېر مقدار کښې شامله ده.

❖ قلب مستوي:

د اعظم صاحب په شاعرۍ کښې يو شمېر صنعتونه مخې ته راځي. د لفظي صنعتونو په صف کښې ولاړ يو صنعت صنعتِ قلب مستوي هم دے. د ټولو مخکښې به دا غوره وي چې د ياد صنعت پېژندنه اوشي. د دې صنعت په اړه نور غلام نوري په خپل کتاب پښتو ښود کښې داسې ليکي:

"په کلام کښې داسې ټکي راوړل چې له دواړو خوا چې يو شان لوستے شي قلب مستوي بلل کېږي. لکه درد يا نادان." 62

د مثال د پاره د رحمان بابا په دې شعر کښې دغه صنعت شتون لري لکه چې ووائي:

"دا ستا درد به په هزار درمان ورنکړم
دانسته به دغه سود په زيـان ورنکړم."63

د رحمان بابا په دې شعر کښې لفظ درد داسې دے چې د دواړو ډډو يو شان ليکلے کېږي. داسې شعرونه د اعظم صاحب په شاعرۍ کښې تر سترګو کېږي لکه چې وائي.

"قدم که په کوم ډاډ کېږدم د يثرب په پاکه مزکه
ستا شان او زماشانې ګنګهار په مدينه کښې 64 "
"ځــــه چـــې زړګـيه لړ د ســــترګو پله ورشو
نن خــــو دې د مينې په ورشو کښې ګرځومه 65 "
"هـــر ادا نه ئــــې ښکاره د مــرګ انداز دے
نه پـــــوهېږم بــــيا د کوم ژوندون آغاز دے 66 "

"تاته هــــــر ستـــــم یو نوې نوې ادا ښکاري
مــــاته هـــــر قدم یو نوے نوے امتحان دے 67 "
"ســــر شــــــي په یو ســــر مینې د چا رسم
دود د زړۀ دســـــــتور د جــــــهان ستا رسم 68 "
"څه زما حوصلې لویې ، او څه ستا ناکړدې ځوانې
نه د هجر شپه وړه شوه، نه د درد قیصه زړه شوه 69"

اُور د نــــمرودانو مــــې قـــــبول دے خـــو
لاره کښې زړۀ ســـــتړے قــــــدم نه مـــنم 70 "

د دې شعرونو په بابله ووئیلے شو چې د اعظم صبب په شاعرۍ کښې صنعت قلب مستوي هم ځاے ځاے په نظر راځي.

❖ صنعت محاطبه:

د نورو صنعتونو تر څنګه د اعظم صاحب په خپله شاعرۍ کښې صنعت محاطبه هم کارولے دے خو ښۀ به دا وي چې اول دا وپېژنو چې صنعت محاطبه څۀ ته وائي. د صنعت محاطبه په حقله ښاغلے مشتاق مجروح لیکي:

"اکثر شاعران په کلام کښې یا شعر کښې ځانته یا خپل محبوب ته یا بل چاته محاطبه کوي. دا محاطبه کله کله غېر جاندار څېز ته هم کېږي. بله دا چې محاطبه یواځې مقطع کښې نۀ وي بلکې هر شعر کښې کېدے شي." 71

د صنعت محاطبې د نمونې د پاره د غني خان دغه شعر چې،

"مچ د زمري سترګې شوکوي ماشے د اوښ وینه
خدایه! ستــا دا عـجیبه دُنیا توره ده که سپینه." 72

هم دغه شان ډاکټر محمد اعظم اعظم هم دغه صنعت ډېر کارولے دے. او په شاعرۍ کښې ئې دغه صنعت ډېر په نظر راځي لکه چې لیکي :

"غـــــېرتي خــــــــــــدایه! بې پښتو نشمه
یـــــو خو کامـــــــل د لارې مـــــل راکـــړه 73 "
"هر څـــــاڅکے نیوے چرته شي، سیپۍ د سمندر
ډېر ګران دے اے زړګیه! په زړګو کښې اوسېدل 74 "

"عشـــــقه! دغه دې انجـــــام د بې خبرۍ دے
هـــــر انجـــــام دې ابـــــتدا محسوسومه 75 "
"اے رهـــــبره! ستـــــا له دمـــه هـم اګاه شوم
چې زمـــا کـــوم ځاے قـــدم ؤ ستا دمـــه شوه 76 "
"شـــپې! څـــوکۍ کوه چې سترګې دې ور نه شي
د ســبا نـــاوې مې ســــترګو کښې اودۀ شوه 77 "
"اے ســـــحره! په ژونـــــدون دې رڼا نه کړه
په بار بار دې تـــبرې راکـــړې په اعـتبار کښې 78 "

"هـــر انداز ئې دلفريب دے خو زړګيه!
دا معصوم معصوم کتل ئې د کتو دي 79 "
"د ديدن غرونه سوري نه شو شيريني!
خـــپل سرونه مو وهلي په تبشو دي 80 "

د دې شعرونو نه دا ثابته شوه چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې يو شمېر صنعتونه شتون لري. په دې څېړنه کښې ترې څه نه څه وڅېړل شول او دلته راډاګې ته شو. د دې صنعت ګرۍ نه دا اندازه کېږي چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په شاعرۍ کښې د فن په حواله يو شمېر نور توکي هم شتون لري چې يو شمېر موضوعات پرې سر کېدے شي.

## حوالې:

1. آصف علي ،چارسدې تاريخ د دوړو لاندې،حمني پبلشرز چارسده،ستمبر ۲۰۱۲ء مخ ۱۹ .
2. ـپښتانه ليکوال،(دوېم ټوک) همېش خليل،اشاعت وړومبې،يونيورستي پريس،محله جنګي پېښور ۲۰۱۱ء مخ ۱۷۰ .
3. سحرګل سحر کتوزے،پښتو ادب پوهنه،شمشاد ګل او محمد صهيب ګل،دوېم ستمبر ۲۰۱۲ء مخ ۳۱۷ .
4. عبدالرحمان بابا ،د عبدالرحمان بابا ديوان،رحمت مارکيټ،قيصه خوانى بازار،۲۰۱۹ء مخ ۱۷ .
5. جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم،اباسين پرنټنګ پرېس،محله جنګي پېښور،جون ۲۰۰۸ ء مخ ۱۹ .
6. هم دغه بره اثر مخ ۱۹ .
7. هم دغه بره اثر مخ ۲ .
8. هم دغه بره اثر مخ ۱۱۲ .
9. هم دغه بره اثر مخ ۱۴۱ .
10. ساجد شائق، څرګنده خزانه،پښتو ادبي ټولنه تحصيل تخت بهائي ضلع مردان پښتونخوا پاکستان،دوېم ځل اګست ۲۰۱۹ء مخ ۳۱۲ .
11. امير حمزه خان شينواري،د حمزه شينواري کليات،يونيورستي بُک اېجنسي پېښور،دوېم ځل اپريل 2013 ء مخ ۱۰۸ .
12. جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم، مخ ۱۸ .
13. هم دغه بره اثر مخ ۱۲ .
14. هم دغه بره اثر مخ ۳۰ .
15. هم دغه بره اثر مخ ۳۷ .
16. هم دغه بره اثر مخ ۴۰ .
17. هم دغه بره اثر مخ ۴۵ .
18. پوهنمل محمد ابراهيم همکار،د بديع فن او پښتو شاعري،ننګرهار پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځي پښتو څانګه،چاپ دوېم وار غويي ۱۳۸۸ ل ، مخ ۱۴۱ .
19. عبدالحميد ،دُرِ او مرجان،يونيورستي بُک ايجنسي خېبر بازار پېښور، سن ندارد ، مخ ۳۳ .
20. جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم، مخ ۱۲ .
21. هم دغه بره اثر مخ ۴ .

22.هم دغه بره اثر مخ ۹۸ .
23.هم دغه بره اثر مخ ۱۰۰.
24.هم دغه بره اثر مخ ۱۰۹ .
25.هم دغه بره اثر مخ ۱۱۱.
26.هم دغه بره اثر مخ ۱۱۲ .
27.هم دغه بره اثر مخ ۱۱۵ .
28.هم دغه بره اثر مخ ۲۰۲ .
29.شیر شاه ترخوي،بحرادب،یونیورستي بُک ایجنسي خېبر بازار قیصه خوانۍ پېښور،مارچ ۲۰۰۵ء مخ ۱۳۲ .
30. خاطر اپریدے،د خاطر اپریدي کلیات، پښتو ادبي جرګه،جنوري ۲۰۰۴ ء مخ ۴۵ .
31.جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم، مخ ۱۸ .
32.هم دغه بره اثر مخ ۱۲ .
33.هم دغه بره اثر مخ ۱۳ .
34.هم دغه بره اثر مخ ۱۳ .
35.هم دغه بره اثر مخ ۱۲ .
36.هم دغه بره اثر مخ ۲۴ .
37.هم دغه بره اثر مخ ۲۵ .
38.هم دغه بره اثر مخ ۲۸ .
39.هم دغه بره اثر مخ ۲۸ .
40.هم دغه بره اثر مخ ۲۹ .
41.هم دغه بره اثر مخ ۴۳.
42.هم دغه بره اثر مخ ۴۳.
43.هم دغه بره اثر مخ ۸۵.
44.هم دغه بره اثر مخ ۹۵ .
45. مشتاق مجروح یوسفزے ،زرکانے ،قلندر مومند ریسرچ سېل پېښور،اووم اېډیشن ۲۰۲۱ء مخ ۸۱.
46.شاهد علي شاهد ،پرخې د ګُل په غېږ کښې اُور واخستو ،افاق پرنټرز محله جنګۍ پېښور ۲۰۱۲ء مخ ۱۰ .
47.جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم، مخ ۱۵ .
48.هم دغه بره اثر مخ ۱۷ .
49.هم دغه بره اثر مخ ۵۰.

50.هم دغه بره اثر مخ ۹۹ .
51.هم دغه بره اثر مخ ۱۰۷ .
52.هم دغه بره اثر مخ ۲۴۰ .
53. جاوید جان، ادبي وړانګې،فهیم پرنټېنګ پریس،چوک بازار بنو،سن ندارد ، مخ ۱۳۵ .
54. ډاکټر صاحب شاه صابر،د صاحب شاه صابر کلیات،د صاحب شاه صابر کورنۍ، ۲۰۲۱ء مخ ۱۷
55.جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم، مخ ۱۲ .
56.هم دغه بره اثر مخ ۱۴ .
57.هم دغه بره اثر مخ ۱۴ .
58.هم دغه بره اثر مخ ۱۵ .
59.هم دغه بره اثر مخ ۵۷.
60.هم دغه بره اثر مخ ۲۵ .
61.هم دغه بره اثر مخ ۸۴.
62. نور غلام نوري،پښتو ښود،سپین غر پښتو ادبي جرګه،پاړه چینار،وړومبے چاپ ۲۰۱۲ ء مخ ۲۸۱ .
63. عبدالرحمان بابا،د عبدالرحمان بابا دیوان، مخ ۵۵.
64.جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم، مخ ۳۸ .
65. هم دغه بره اثر مخ ۴۸ .
66. هم دغه بره اثر مخ ۱۱۴ .
67. هم دغه بره اثر مخ ۱۳۴ .
68. هم دغه بره اثر مخ ۱۲۳ .
69. هم دغه بره اثر مخ ۱۲۴ .
70. هم دغه بره اثر مخ ۲۱۵ .
71. مشتاق مجروح یوسفزے ،زرکانړے ، مخ ۲۵۷ .
72. غني خان،لټون،(د غني خان نوے کلام) یونیورسټي بُک ایجنسي،پېښور،سن ندارد، مخ ۱۱۴ .
73. جنون او ژوندون،ډاکټر محمد اعظم اعظم، مخ ۱۳ .
74. هم دغه بره اثر مخ ۱۳ .
75. هم دغه بره اثر مخ ۱۴ .
76. هم دغه بره اثر مخ ۴۰ .
77. هم دغه بره اثر مخ ۴۱ .
78. هم دغه بره اثر مخ ۲۰ .

79. هم دغه بره اثر مخ ۲۲.
80. هم دغه بره اثر مخ ۲۲.

# Book Refrence:

1. Asif ali, Dh charssdy tareeh dh Doroo landy, Humna publisher's September 2019 makh 19.
2. Hamish Khalil, Puhtana likwaal dwayem Took,Ashaat rombii, university press,Mahla jangy,pehawar 2011 makh 170.
3. Sahar Gul Sahar, puhto Adab Puhanaa,shamsad gul aw Muhammad sohaib Gul,2 september 2016 makh 317.
4. Abdur Rehman BaBa, dh Abdur rehman BaBa Dewaan, rahmat market, Qesakhwani Bazar, 2019 makh 17.
5. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 19.
6. Hum daga bara asar makh 19.
7. Hum daga bara asar makh 19.
8. Hum daga bara asar makh 116.
9. Hum daga bara asar makh 141.
10. Sajid Muhmmad Shaiq, sarganda Khazana, puhto adbii tolana, tehsel Tahtbhai, zeal Mardan, pakhtunkhwa, Pakistan,dwaim zal August 2019 makh 316.
11. Ameer Hamza Khan Shenwari, dh hamza Shenwari kulyaat,universty book Agency pehawar,dawym zal april 2013, makh 108.
12. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 18.
13. Hum daga bara asar makh 16.
14. Hum daga bara asar makh 30.
15. Hum daga bara asar makh 37.
16. Hum daga bara asar makh 40.
17. Hum daga bara asar makh 45.
18. Puhanmal Ibrahim Hamkaar, dh Badeg Fun aw Puhto Shairy, Nanghrakhar, puhantoon Khuwanii aw Rozany Puhto sangaa,Chaap dawyem waar gawyii,1388 laam, makh 141.
19. Hameed BaBa, Dur Aw Marjaan, university book agency Khyber bazar makh 33.
20. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 12.
21. Hum daga bara asar makh 4.
22. Hum daga bara asar makh 98.
23. Hum daga bara asar makh 100.
24. Hum daga bara asar makh 109.

25. Hum daga bara asar makh 111.
26. Hum daga bara asar makh 112.
27. Hum daga bara asar makh 115.
28. Hum daga bara asar makh 206.
29. Sher Shah tarhawii, Bahar –ul- adab, university book agency Khyber bazar qesa khawny,pehawar march 2005 makh 136.
30. Khatir Apridy,puhto adbi jarga January 2006, makh 45.
31. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 18.
32. Hum daga bara asar makh 12.
33. Hum daga bara asar makh 13.
34. Hum daga bara asar makh 13.
35. Hum daga bara asar makh 16.
36. Hum daga bara asar makh 24.
37. Hum daga bara asar makh 25.
38. Hum daga bara asar makh 28.
39. Hum daga bara asar makh 28.
40. Hum daga bara asar makh 29.
41. Hum daga bara asar makh 43.
42. Hum daga bara asar makh 43.
43. Hum daga bara asar makh 85.
44. Hum daga bara asar makh 95.
45. Mushtaq Majooh, zarkani,qalandar mohmand Resarch seel pehawar, owam adishion 2021 makh 81.
46. Shahid ali shahid, parhi dh gulp h gegh ke orr wahast,afaq printer mahla jangy pehwar 2016, makh 10.
47. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 15.
48. Hum daga bara asar makh 17.
49. Hum daga bara asar makh 50.
50. Hum daga bara asar makh 99.
51. Hum daga bara asar makh 107.
52. Hum daga bara asar makh 240.
53. Javid jan, Adbi wrangy, faheem printing press,chawk banu bazar san nadard, makh 135.
54. Sahib Shah Sabir, dh sabir kulyaat, dh sahib shah sabir korny,2021 makh 17.
55. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 16.
56. Hum daga bara asar makh 14.
57. Hum daga bara asar makh 14.
58. Hum daga bara asar makh 15.

59. Hum daga bara asar makh 57.
60. Hum daga bara asar makh 65.
61. Hum daga bara asar makh 84.
62. Ghulam Nori puhto khud,speen ghar puhto adbi jarga paraa chenaar,2016, makh 281.
63. Abdur Rehman BaBa, dh Abdur rehman BaBa Dewaan, rahmat market, Qesakhwani Bazar, 2019 makh 55.
64. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 38.
65. Hum daga bara asar makh 48.
66. Hum daga bara asar makh 114.
67. Hum daga bara asar makh 134.
68. Hum daga bara asar makh 163.
69. Hum daga bara asar makh 164.
70. Hum daga bara asar makh 215.
71. Mushtaq Majooh, zarkani,qalandar mohmand Resarch seel pehawar, owam adishion 2021 makh 257.
72. Ghani Khan, Latoon ( dh Ghani khan nawy kalam) university book agency pehawar, san ndard,makh 114.
73. Dr. Muhammad Azam Azam, Janoon aw jawadoon, Abaseen printing press mahla jangy pehawar, June 2008 Makh 13.
74. Hum daga bara asar makh 13.
75. Hum daga bara asar makh 14.
76. Hum daga bara asar makh 40.
77. Hum daga bara asar makh 41.
78. Hum daga bara asar makh 78.
79. Hum daga bara asar makh 62.
80. Hum daga bara asar makh 62.